صاحب امتياز:
د ا.ا.ا. د اطلاعاتو او رسنيو مرکز
د اړيکې شمېره:
+93 (0) 202100633
ايميل:
info@gmic.gov.af
آدرس:
مرمرينه ماڼۍ، بهرنيو چارو وزارت
ته مخامخ، کابل - افغانستان

پنځه لسمه ګڼه

# ارګ پاڼه



د افغانستان اسلامي امارت
د اطلاعاتو او رسنيو مرکز

د تأسيس کال: ۱۴۴۳ هجري قمري - ۱۴۰۰ هجري شمسي - 2021 ميلادي | د چاپ نېټه: شوال المکرم ۹، کال ۱۴۴۳ هجري قمري

## د اسلامي امارت اقتصادي کميسيون له ډېرو سکرو څخه د انرژۍ توليد ته لومړيتوب ورکړ

د رياست الوزرا اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر په مشرۍ اقتصادي کميسيون له ډبرو سکرو څخه د برېښنا توليد ته پر لومړيتوب پرېکړه وکړه.
په دغه کميسيون کې د انرژۍ او اوبو، کانونو او پټروليم، د صنايعو او سوداګرۍ وزارتونو، د صنايعو او کانونو او همدارنګه د سوداګرۍ او پانګونې خونې ته دنده وسپارل شوه، چې په صنعتي پارکونو، لويو ښارونو او سيمو کې له ډبرو سکرو څخه د برېښنا توليد ته لومړيتوب ورکړي؛ حجم او د انرژۍ اړتياوې په ګوته پاتې ۲

## اسلامي امارت د حجاب د رعايت په هکله نوى فرمان صادر کړ

د دعوت، ارشاد، امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت د ښځو د حجاب د رعايت کولو په تړاو د اسلامي امارت د زعيم عاليقدر اميرالمؤمنين شيخ الحديث مولوي هبة الله اخوندزاده فرمان صادر کړ.
په هغې توضيحي او تطبيقي طرحه کې چې د اسلامي امارت د زعيم له خوا تاييد شوې د ښځو د حجاب په هکله يادونه شوې ده.
په دې حکم کې راغلي، چې چادري په هېواد کې له پېړيو را پديخوا د افغان باعزته فرهنګ برخه ده او د شرعي حجاب بهترين ډول دي. دغه راز تور رنګه مروجه جامه هم حجاب بلل شوى؛ خو پدې شرط، چې تنګ او چسپ نه وي. پاتې ٦

معاون اداری رياست الوزرا به شماری از اطفال مريض و يتيم در کابل مساعدت نقدی کرد بقيه ٦

د عربي متحده اماراتو او ترکيې نوې مرستې افغانستان ته راورسېدې پاتې ٦

روسيه غواړي له افغانستان سره په اقتصادي برخه کې همکاري وکړي پاتې ۵


د افغانستان په رسميت پېژندل د افغانستان نه بلکې د نړۍ اړتيا ده پاتې ۵

## علاقمندی يک شرکت چينايی برای سرمايه‌گذاری در بخش پروسس جلغوزه



يک شرکت چينايی می‌خواهد جلغوزه افغانستان را پس از بسته بندی در کشور به چين صادر کند.
مسئولان اتاق تجارت و صنعت افغانستان می‌گويند که، رييس يک شرکت بقيه ۲

## د سوداګرو او پانګوالو لپاره د بهرنۍ لېږدونې آسانتياوې برابرې شوې




د افغانستان بانک د سوداګرو او پانګوالو لپاره د بهرني لېږد (T.T) آسانتياوې برابرې کړې دي.
د افغانستان بانک وياند په يوه ويډيويي پيغام کې ويلي، چې دغه بانک به سوداګرو پاتې ۲

## اوزبيکستان محموله کمکی به افغانستان ارسال کرد

امارت اسلامی افغانستان می‌گويد که اوزبيکستان ۴ هزار تُن محموله کمکی به افغانستان فرستاده است.
محترم ذبيح‌الله مجاهد، معين وزارت اطلاعات و فرهنګ و سخنگوی امارت اسلامی می‌گويد: اوزبيکستان بقيه ۵

## د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال په حضور کې د ۲۱٦ ميليون ډالرو په ارزښت ترون لاسليک شو



د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر په حضور کې د ښار جوړولو او ځمکو وزارت او د بيجينګ-ننګرهار پاتې ۵

## نړيوال بانک له بې‌وزلو هېوادونو سره د مرستې لپاره يو صندوق جوړوي




نړيوال بانک وايي، له بې‌وزلو هېوادونو سره د مرستې لپاره ۱۷۰ ميليارد ډالرو يو صندوق جوړوي. د دې بانک مشر وايي، هڅه کوي چې په راتلونکو درېو مياشتو کې د دې صندوق څه باندې پاتې ۵

## در نشست کميسيون اقتصادی فيصله شد که مقدار ۲۷۰۰ تُن تيل (A80) که به خاک افغانستان وارد شده است شرکت‌های قراردادی در هر تُن تيل 25 دالر که قبلاً به شرکت دولتی نفت و گاز پرداخت می‌کردند پس از اين، به اداره ملی ستندرد يا «انسا» پرداخت نمايند.

## د ښوونځيو ستونزه به د ديني عالمانو يوې ناسته کې حل شي

د اسلامي امارت يو ارشد غړى محترم انس حقاني وايي، تاکل شوې د نجونو ښوونځيو د پرانيستلو ستونزه د ديني عالمانو په يوې ناسته کې حل شي.
ښاغلي حقاني چې په خوست ولايت کې پاتې ۵

## له اختر وروسته به د يونيفورم د وېش بهير پيل شي



د افغانستان اسلامي امارت د کورنيو چارو وزارت وايي چې د امنيتي ځواکونو يونيفورم بشپړ شوى او له اختر وروسته به ورته ووېشل شي.
د کورنيو چارو وزارت وياند پاتې ۲

## د اسلامی امارت ځواکونه د هېوادوالو د تلپاتي امنيت ټينګښت ته ځان ژمن بولي او هيچا ته اجازه نه ورکوي، چې د هېواد امنيت ګډوډ کړي.

محترم ملا محمد يعقوب مجاهد، د ملي دفاع وزارت سرپرست

## د پخواني نظام لوړپوړي چارواکي دې هېواد ته ډاډمن راستانه شي

د افغانستان اسلامي امارت د کورنيو چارو سرپرست وزير محترم سراج الدين حقاني د تېر نظام له چارواکو څخه هېواد ته د راستنېدو غوښتنه کړې او وايي، چې کولى شي په افغانستان کې له عزت ډک ژوند غوره کړي.
د کورنيو چارو وزارت چارسمبالى وايي، چې اسلامي امارت د ټولو افغانانو د سر، مال او عزت دفاع کوي او هغه څوک، چې بېرته هېواد ته راستانه شوي؛ اوس پوره خوندي دي. #

## د اسلامي امارت پلاوي د قطر له چارواکو سره د افغانستان هوايي ډګرونو د مديريت پر قرارداد خبرې وکړې

د بهرنيو چارو د سرپرست وزير محترم مولوي امير خان متقي په مشرۍ د افغانستان اسلامي امارت لوړپوړي پلاوي د قطر د لومړي وزير له مرستيال او بهرنيو چارو له وزير شيخ محمد بن عبدالرحمن آل ثاني سره وکتل. پاتې ۲

**زموږ غوښتنه دا ده چې هېڅوک بشري مرستې مشروطې نه کړي او هغه سیاسي موخو سره ونه تړي. دا انساني او عاطفي موضوع ده، باید له افغانانو سره مرسته او همکاري وشي، لکه عربي متحده امارات چې له هېڅ موخې پرته یې له افغانستان سره مرسته کړې ده او موږ له هغوی مننه کوو.**

محترم ذبیح الله مجاهد، د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت مرستیال او د اسلامي امارت ویندوی



# افغان‌ها نُخستین عید سعید فطر را تحت حاکمیت امارت اسلامی افغانستان تجلیل کردند

پس از آنکه ستره محکمه امارت اسلامی افغانستان، روز یک شنبه (۱۱ثور) را اول عید سعید فطر اعلام کرد، افغانان در تمام ولایات عید سعید فطر را تجلیل کردند.

امیرالمؤمنین شیخ الحدیث مولوي هبة الله آخوندزاده، رهبر امارت اسلامی افغانستان در نُخستین سخنرانی‌اش در مسجد عیدگاه ولایت قندهار فرا رسیدن عید سعید فطر و پیروزی نیروهای امارت اسلامی را به ملت افغانستان تبریک گفت.

درهمین حال، محترم ملا محمد حسن آخوند، رییس الوزرا امارت اسلامی افغانستان پس از ادای نماز عید در ارگ گفت، به یاری خداوند متعال در کشور اشغال به پایان رسیده، امنیت سرتاسری در کشور تامین گردیده و افغانها برای نخستین بار عید را در فضای اخوت و برادری تجلیل می کنند. به گفته رییس الوزرا مردم افغانستان طعم شرین پیروزی را پس از سال‌ها جنگ چشیده اند.

به همین ترتیب، معاونین ریاست الوزرا ایام عید سعید فطر را به ملت مسلمان افغانستان تبریک گفته و برای تمام افغانها آرزوی صلح دایمی و آغاز مسیر آبادنی برای کشور کردند.

برعلاوه، مسئولین امارت اسلامی عید سعید فطر را به تمام ملت مسلمان افغانستان تبریک گفته و تاکید ورزیدند که تمام افغانها باید در آبادانی و شکوفایی کشور سهم فعال گیرند.

همچنان؛ نمایندهگی سیاسی سازمان ملل متحد در افغانستان (یوناما) عید سعید فطر را به مردم افغانستان تبریک گفته و تعهد خویشرا مبنی بر دوام کمک و همکاری با افغانستان تجدید کردند. #

## علاقمندی یک شرکت چینایی برای...

چینی به نام امین زونگ، در دیدار با مسئولان این اتاق از بهر سرمایه‌گذاری در بخش پروسس جلغوزه علاقه‌مندی نشان داده است.

اعضای سکتور خصوصی می‌گویند که در صورت پروسس شدن جلغوزه افغانستان در کشور، به نام خود افغانستان به بازارهای بین المللی صادر خواهد شد.

به گفته اتاق تجارت و سرمایه گذاری، بخشی از جلغوزه افغانستان در گذشته به پاکستان صادر می‌شد و شرکت خصوصی امین زونگ پس از بسته بندی در پاکستان، آن را به چین صادر می‌کرد.

حالا این شرکت می‌خواهد در بخش پروسس و بسته بندی محصول جلغوزه در افغانستان سرمایه‌گذاری کند و جلغوزه‌های پروسس شده در افغانستان را مستقیماً به چین صادر کند.

مسئولان اتاق تجارت می‌افزایند که با اجرای این سرمایه‌گذاری جلو قاچاق جلغوزه خام از کشور نیز گرفته می‌شود.

مسئولان اتاق صنایع و معادن نیز سرمایه گذاری تاجران چینایی در افغانستان را تایید کرده و می‌افزایند که با این سرمایه گذاری علاوه بر ایجاد شغل برای هزاران تن در سراسر کشور، از قاچاق جلغوزه از کشور نیز جلوگیری می شود.

شیرباز کمین زاده، رییس اتاق صنایع و معادن می‌گوید: ما با سرمایه گذاران چینی که در نقاط مختلف کشور از جمله جلغوزه سیاه سرمایه گذاری می کنند صحبت کرده ایم و این سرمایه گذاری ها در کشور ما بسیار مورد نیاز است.

آگاهان اقتصادی همچنین از هرگونه سرمایه گذاری خارجی در کشور استقبال می‌کنند و می‌افزایند که این سرمایه گذاری می تواند به مدیریت بحران اقتصادی در افغانستان کمک کند.

سید رحمان عمران، آگاه اقتصادی می‌گوید: با توجه به شرایط کنونی افغانستان، چنین سرمایه گذاری‌ها برای توسعه اقتصادی خود افغانستان ضروری است و باید تسهیل شود.

امارت اسلامی افغانستان از زمان روی کار آمدن همواره از سرمایه گذاران داخلی و خارجی خواسته است که در افغانستان سرمایه گذاری کنند و علاوه بر تامین امنیت در همه زمینه‌ها با سرمایه گذاران همکاری خواهند کرد. #

**د پیروزي ښارګوټی په صنعتي پارک کې چې ۲۱۶ میلیون ډالر لګښت پرې راځي؛ ۱۵۰ کارخونې جوړېږي چې ۱۳۶۰۰ هېوادوالو ته په مستقیم او ۳۰۰۰۰ نورو کسانو ته به په غیر مستقیم ډول د کار زمینه برابره کړي.**

د ښار جوړولو او ځمکو وزارت

## د اسلامي امارت پلاوي د قطر له چارواکو...

په دې کتنه کې، د یو لړ سیاسي او اقتصادي موضوعاتو سربېره، د افغانستان د هوايي ډګرونو د قرارداد پر هغو ټکو خبرې وشوې چې لا تر اوسه پرې دواړه لوري توافق ته نه دي رسیدلي.

په همدې کتنه کې دواړو لوریو هغه ټکي مشخص کړل چې لا زیات بحث او وضاحت ته اړتیا لري.

د بهرنیو چارو وزارت وایي چې له پلان سره سم، د افغانستان، قطر او ترکیې تخنیکي ټیمونه په ګډه کار کوي چې د هوايي ډګرونو د فعالیدو اړوند یوې هوکړې ته ورسیږي. #

## د اسلامي امارت اقتصادي کمیسیون له ډېرو سکرو...

او په دې برخه کې کار پیل کړي.

افغانستان اوسمهال د اوبو د برېښنا له څو فابریکو، فوسیلي تېلو او لمریزو تختو له کارولو ۶۰۰ میګاواټه ډېره برېښنا تولیدوي. که څه هم، ۶۷۰ میګاواټه نوره اضافي هغه له ګاونډ هېوادونو؛ ایران، ازبکستان، تاجکستان او ترکمنستان څخه واردوي. افغانستان د ۷۳ میلیون ټنه ثابتو سکرو زیرمې لري، چې په ۲۰۱۶ کال کې د نړۍ ۶۲ هېواد شمېرل شوی دی.

همدارنګه یو شمېر نور اټکلونه یې د ۱۰۰ او ۴۰۰ میلیون ټنو ترمنځ ښیي.

په تېرو دو لسیزو کې سربېره پردې چې د نړۍ هیوادونه له افغانستان سره په بیلابیلو برخو په ځانګړې توګه د برېښنا په سکتور کې مرستې وکړې خو له دغو مرستو څخه په اغېزمنه توګه استفاده ونشوه او افغانستان لا اوس هم د برېښنا له کمښته ځوریږي. #

## د سوداګرو او پانګوالو لپاره د بهرنی لیږدونې...




او پانګوالو ته د بیو د کمولو او عامو خلکو او سوداګرو ته د زیانونو د مخنیوي په موخه لازمې آسانتیاوې برابرې او د بانکدارۍ سکټور له لارې بهر ته د لیږد بهیر چمتو کړی دی.

د افغانستان بانک د څرګندونو له مخې؛ د دې تګلارې پر بنسټ سوداګر او پانګوال کولی شي، چې د اومو توکو په ځانګړې توګه د خوراکي توکو، طبي او کرنیزو درملو، سون توکو، خامو موادو، د برېښنا د بېلونو، عصري ماشینونو د واردولو لپاره پرته له زینتي توکو خپل کاروبار پراخه او وده ورکړي. دغه راز د بانکدارۍ سیسټم له لارې د بهرنیو زدکوونکو لپاره اړین ټکنالوژي، د اړتیا وړ سیستمونو ساتنه، ټرانسپورټي او مخابراتي خدمتونه او ان د ټیلګرافیک لیږد (T.T) چمتو کړي.

هغه زیاته کړې: سوداګریز بانکونه باید کورني لیږد په کورنیو آسانتیاوو کې د صادراتي سند له لارې وارد شوې پیسې له کوم محدودیت او ځنډ پرته سوداګرو ته ورکړي.

د افغانستان بانک د ویاند د څرګندونو له مخې؛ د ملګرو ملتونو له لارې افغانستان ته بشري مرستې پخپل اصلي حالت د ټرون له مخې پاتې کیږي او له دې تګلارې څخه مستثنی دي.

ټیلګرافیک لیږد (T.T) چې د ټیلیکس له لارې د پیسو لیږد سره تړاو لري؛ دا د زړو کیبلونو او راډیو او تیلیفون سیسټم له لارې د پیسو لیږلو معنا لري.

په دې سیسټم کې، د پیسو لیږل معمولاً له دوه څخه تر درې ورځو پورې وخت نیسي او د پیسو لیږلو بهیر د دودیزو میتودونو په پرتله چټکه دی.#

**کمیسیون اقتصادی به وزارت های فواید عامه و صنعت و تجارت و د افغانستان بانک، وظیفه سپرد تا به مشکل حواله جات، تضمینات شرکت‌های قراردادی و مطالبات باقی مانده‌ای آن‌ها به اداره‌ای قبلی، یک راه‌حل مناسب پیدا کنند. همچنین پیشنهاد وزارت شهرسازی و اراضی جهت ساخت ۱۵۰ فابریکه‌ی کوچک و متوسط در پارک صنعتی مربوط به پروژه‌ای پیروزی توسط شرکت ساختمانی و تولیدی بیجینگ-ننگرهار را قابل تطبیق و تایید دانست.**

## له اختر وروسته به د یونیفورم د وېش...

محترم عبدالنافع ټکور وایي: د اسلامي امارت د پولیسو د یونیفورم کار بشپړ شوی او له اختر وروسته به یې د وېش بهیر پیل شي. په لومړي سر کې یونیفورم په کابل کې او بیا په ولایتونو کې مجاهدینو ته وېشل کېږي.

په همدې حال کې د پوځي چارو یو شمېر کارپوهان په هېواد کې د جرمونو په کمولو کې د یونیفورم درلودل مهم بولي او وایي، د یونیفورم درلودل د امنیتي او دفاعي ځواکونو تر منځ د نظم ښودنه کوي.

د پوځي چارو کارپوه صادق شینواری وایي: افغان پولیسو ته د نویو یونیفورمونو وېش به نه یوازې په هېواد کې جرمونه کم کړي؛ بلکې د افرادو او امنیتي پرسونل تر منځ به توپیر هم وشي. #

**د اسلامي امارت په رسمیت پېژندل یوازې د اسلامي امارت اړتیا نه ده، بلکې د ټولې نړۍ‌والې ټولنې اړتیا ده. افغانستان د نړۍ‌والې ټولنې یو غړی دی او د افغانستان او نړۍ‌والې ټولنې ترمنځ رسمي تعاملات د ټولو په ګټه دي.**

محترم انعام الله سمنګانی، د اسلامي امارت مرستیال ویاند

## بهرنیو چارو وزارت وروستیو سېلاب ځپلو لپاره د مرستې غوښتنه کړې



د بهرنیو چارو وزارت پر نړیوالې ټولنې غږ کړی چې په افغانستان کې د سېلابونو له زیانمنو شویو سره مرستې وکړي.

د بهرنیو چارو وزارت ویاند محترم عبدالقهار بلخي وایي: له ټولو خیریه بنسټونو، نړیوالو موسساتو او هېوادونو څخه د عاجلو بشري مرستو غوښتنه کوو تر څو په دې خاصو شرایطو کې د سیلاب ځپلو هیوادوالو د سرپنا، خوراک، صحت او زراعت په برخو کې لاسنیوی وشي.

طبیعي پېښو ته د رسېدنې په چارو کې د دولت وزارت مالي او اداري عمومي رییس محترم غلام غوث ناصري وایي: د لومړنیو راپورونو له مخې د هېواد په ۱۲ ولایتونو کې د دې بارانونو او سېلابونو په پایله کې ۲۹ تنه شهیدان شوي، ۴۰ تنه ټپیان شوي، ۵۰۰ کورونه په بشپړه توګه ویجاړ شوي، ۲ زره کورونه په جزوي توګه ویجاړ شوي، ۳۰۰ څاروي له منځه تللي او ۳ زره جریبه کرنیزه ځمکه ویجاړه شوې ده. #

## روسیه غواړي له افغانستان سره په اقتصادي برخه...

د روسیې د بهرنیو چارو وزیر وایي چې هېواد یې له افغانستان سره د اقتصادي او سوداګریزو همکاریو د پراختیا لپاره هیله مند دی.
د روسیې د بهرنیو چارو وزیر سرګی لاوروف وایي چې هېواد یې غواړي له افغانستان سره د کرنې، ټرانزیټ او انرژۍ په برخو کې په مستقیمه توګه همکاري ولري.
د روسیې د بهرنیو چارو وزیر سرګي لاوروف څرګنده کړه: موږ د پراختیا، همکارۍ او د سوداګرۍ په برخه کې د مستقیمو اړیکو فرصتونه وینو. تر ټولو لومړی، کرنه، انرژي او دغه راز ټرانسپورټ د افغانستان له ټرانزیتي وړتیاوو دي. په ټولیز ډول په افغانستان کې ۱۴۰ شرکتونه چې د شوروي اتحاد له لوري جوړ شوي دي، د افغانستان د اقتصاد د ملا تیر حیثیت درلود او دا په سوداګریزه او اقتصادي برخه کې د همکاریو د زیاتېدو لپاره نور فرصتونه رامنځته کوي.
بل خوا د سوداګرۍ او پانګونې خونې مسئولان په اوسني وضعیت کې د روسیې دا ګام د هېواد لپاره ګټور ګڼي.
د سوداګرۍ او پانګونې خونې غړی خان جان الکوزی وایي: له دغه کار سره زموږ کرنه وده کوي او زموږ کرنه پرمخ ځي، د دې سربېره زموږ د کورني تولیداتو ظرفیت به هم ډېر لوړ شي. #

## دیدار معاون سیاسی ریاست الوزرا با معاون والی نورستان

محترم مولوی عبدالکبیر معاون سیاسی ریاست الوزراء امارت اسلامی افغانستان در دیدار با شیخ زر محمد معاون والی نورستان و شیخ حسن خان مشاور وزارت اطلاعات و فرهنگ، در خصوص استقامت های کاری شان، هدایات لازم صادر نمود.
در این دیدار شیخ زر محمد معاون والی نورستان در مورد وضعیت سیاسی و امنیتی نورستان به معاون سیاسی ریاست الوزراء گزارش خویش را ارایه کرد و اطمینان داد که مردم و اقوام نورستان حامی و همکار امارت اسلامی می باشند و با همکاری مردم در این ولایت امنیت کامل تأمین است. #

## اوزبیکستان محموله کمکی به افغانستان...




۴ هزار تُن مواد از قبیل آرد، گندم، برنج، روغن، البسه، ادویه و واکسین را به افغانستان کمک نمود.
به گفته وی این محموله کمکی توسط نماینده ویژه آن کشور به مقام‌های امارت اسلامی سپرده شد.
این درحالی است که اوزبیکستان تاکنون ۶۳ لاری کمک‌های بشردوستانه را به افغانستان ارسال کرده است. #

**له ټولو خیریه بنسټونو، نړیوالو موسساتو او هېوادونو څخه د عاجلو بشري مرستو غوښتنه کوو تر څو په دې خاصو شرایطو کې د سیلاب ځپلو هېوادوالو د سرپناه، خوراک، صحت او زراعت په برخو کې لاسنیوی وشي.**

د بهرنیو چارو وزارت ویاند محترم عبدالقهار بلخي

## نړیوال بانک له بې‌وزلو هېوادونو سره د مرستې...




۵۰ میلیارد ډالره بې‌وزله هېوادونو ته وسپارل شي.
د نړیوال بانک رییس زیاتوي، له‌دې کاره یې موخه په بې‌وزلو هېوادونو کې د اقتصادي ناورین مخنیوی دی.
ورته مهال د اقتصاد وزارت وایي، په اوسنیو شرایطو کې افغانستان د نړیوال بانک په لومړیتوبونو کې دی، څو وکولای شي د زېربنایي پروژو په پیلولو سره هېوادوالو ته د کار زمینه برابره کړي.
په‌دې لړ کې یو شمېر کارپوهان په‌دې باور دي چې له اقتصادي ناورینه د وتلو لپاره اړتیا ده چې پر پراختیایي پروژو پانګه‌ونه وشي.
د مالي او بانک‌ولۍ چارو کارپوه سیر قریشي وایي: دا چاره کولای شي چې افغانانو ته د کار موندنې، د بې‌وزلۍ په کموالي او د خلکو د ژوند په ښه‌والي کې موثر نقش ولري.
تر دې وړاندې هم د ملګرو ملتونو په غونډه چې د بریتانیا، جرمني او قطر په کوربه‌توب د افغانستان لپاره د بشري مرستو د راټولو په موخه جوړه شوې وه چې پکې یو څلوېښت هېوادونو او نړیوالو سازمانونو تر ۲۰۲۲ پورې له افغانستان سره ۲,۴ میلیارد ډالرو مرستې ژمنه وکړه. #

**گفت وگوهای هیئت امارت اسلامی با مقام‌های قطری روی مدیریت میدان‌های هوایی افغانستان مفید بود.**

وزارت امور خارجه ا.ا.ا.

## محمولهٔ کمک‌های بشری پاکستان به افغانستان رسید



منصور احمدخان، سفیر پاکستان در کابل از انتقال یک محمولهٔ کمکی پاکستان به افغانستان خبر داده است.
سفیر پاکستان در کابل در تویتی نگاشته است که این محموله شامل مواد غذایی و دارو است که به دستور شهبازشریف، نخست‌وزیر آن کشور برای کمک‌رسانی به آسیب‌دیدگان سیلاب‌های اخیر فرستاده شده است.
منصوراحمد خان افزوده که این کمک‌ها به نهاد های مدد رسان در مزارشریف سپرده می‌شود تا از طریق آنان به خانواده های آسیب دیده ناشی از سیلاب توزیع شود.
سفیر پاکستان می‌گوید که قرار است در روزهای آینده یک محمولهٔ دیگر از کمک‌های بشردوستانهٔ آن کشور به افغانستان منتقل شود.
این در حالی است که شماری خانواده ها از اثر سیلاب‌های اخیر متضرر شده اند.
وزارت امور خارجهٔ امارت اسلامی از کشور ها و سازمان های امداد رسان خواسته است تا به خانواده های آسیب‌دیده کمک‌رسانی کنند. #

## د افغانستان په رسمیت پېژندل د افغانستان نه بلکې د...

د اسلامي امارت ویاند مرستیال محترم انعام الله سمنګانی وایي چې د افغانستان په رسمیت پېژندل د افغانستان اړتیا نه بلکې د نړۍ اړتیا ده او د افغانستان په رسمیت نه پېژندل به ډېرې ناوړه پایلې ولري.
ښاغلي سمنګاني څرګنده کړه: د اسلامي امارت په رسمیت پېژندل یوازې د اسلامي امارت اړتیا نه ده، بلکې د ټولې نړۍ‌والې ټولنې اړتیا ده. افغانستان د نړۍ‌والې ټولنې یو غړی دی او د افغانستان او نړۍ‌والې ټولنې ترمنځ رسمي تعاملات د ټولو په ګټه دي.
اسلامي امارت وایي چې په ۲۰۲۲ کال کې به یې هڅې تر ډېره په افغانستان کې پر ځانبسیاینې او له نړۍ سره پر تعامل راټولې وي. #

**از اول الی هفت ثور سال روان، سه صد و سی و دو ملیون و هشت صد هزار افغانی از معادن کشور عواید جمع آوری شده است.**

وزارت معادن و پترولیم ا.ا.ا.

## د ښوونځیو ستونزه به د دیني عالمانو یوې...

یې د یوې ناستې پر مهال خبرې کولې وویل، د دې ستونزې د حل لپاره یو شمېر دیني عالمان او مسلکي کسان ځانګړي شوي او په نږدې راتلونکې کې به دا ناسته جوړه شي. #

**د اسلامي امارت د پولیسو د یونیفورم کار بشپړ شوی او له اختر وروسته به یې د وېش بهیر پیل شي. په لومړي سر کې یونیفورم په کابل کې او بیا په ولایتونو کې مجاهدینو ته وېشل کېږي.**

د کورنیو چارو وزارت ویاند محترم عبدالنافع ټکور

## صادرات ذغال سنگ افغانستان شانزده درصد افزایش یافته است



میزان صادرات ذغال سنگ افغانستان نسبت به سال گذشته، بیش از ۱۶ در صد افزایش یافته است.
بر بنیاد آمار وزارت مالیه، از اول ماه سنبله سال ۱۳۹۹ هجری خورشیدی تا اول حمل سال ۱۴۰۰، افغانستان به ارزش بیش از یک میلیارد افغانی، ذغال سنگ صادر کرده است اما در هفت ماه اخیر، میزان صادرات ذغال سنگ کشور به بیش از ۱۶ در صد افزایش یافته است.
محترم احمد ولی حقمل، سخنگوی وزارت مالیه می گوید: اکثریت صادرات ما به پاکستان است در همین جا مصرف می شود و برخی تاجران از پاکستان به دیگر کشور ها ذغال سنگ افغانستان را صادر می کنند.
بزرگترین معادن ذغال سنگ افغانستان در شمال کشور موقعیت دارد که قرارداد بخش آن به شرکت‌های خصوصی واگذار شده است. این معادن به شکل کمربند از رشته کوهای هندوکش و از ولایت بدخشان آغاز و به ولایت هرات منتهی می‌شود. #

## د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال په حضور کې...

ساختماني او تولیدي شرکت تر منځ د پیروزي ښارګوټي په ختیځه برخه کې د صنعتي پارک جوړولو په موخه د ځمکې د ورکړې تړون لاسلیک شو.
په دغه صنعتي پارک کې چې ۲۱۶ میلیون ډالر لګښت پرې راځي؛ ۱۵۰ کارخونې جوړېږي چې ۱۳۶۰۰ هېوادوالو ته په مستقیم او ۳۰۰۰۰ نورو کسانو ته به په غیر مستقیم ډول د کار زمینه برابره کړي.
د یادولو وړ ده چې په پیروزي ښارګوټي کې پر یاد صنعتي پارک سربېره؛ ښوونیز مرکزونه، سوداګریز او د هستوګنې بلاکونه، شنې ساحې، مسجدونه او تفریحي پارکونه هم شامل دي. #

**له دوو لسیزو بعد مو په هیواد کې د آزادۍ لمړی اختر مبارک شه یو داسې اختر چې نه مو پر هیواد د اشغالګرو واک حاکم دی او نه هم د جنګسالارانو زور واکې، حاکمان مو عادل، زړه سواند او پر هیواد مین خلک دي راځئ په شکر ایستلو او ښه خدمت کولو سره د دې ستر نعمت حق ادا کړو.**

محترم قاري محمد یوسف احمدي، د اطلاعاتو او رسنیو مرکز رئیس

## جلسه کمیسیون اداری به ریاست معاون اداری ریاست الوزرا برگزار شد

جلسه کمیسیون اداری به ریاست محترم مولوی عبدالسلام حنفی معاون اداری ریاست الوزرا ا.ا.ا برگزار شد. در این جلسه، بر علاوه سایر موضوعات، طرح اداره تعلیمات تخنیکی و مسلکی جهت قرارداد وسایط حمل و نقل شاگردان ناشنوا تائید شد.
همچنان روی بازنگری و بررسی همه جانبه طرح ریاست عمومی ترافیک در هماهنگی با ادارات ذیدخل بحث مفصل صورت گرفت و تصامیم لازم اتخاذ گردید. #

**از بهر نظارت از کمک‌های بشری در کشور یک کمیته نظارتی در کابل و ولایت‌های دیگر کشور ایجاد گردیده و هدف از ایجاد این کمیته توزیع کمک‌های بشری به گونه شفاف به نیازمندان است.**

وزارت اقتصاد ا.ا.ا.

ارګ پاڼه

د افغانستان اسلامي امارت
د اطلاعاتو او رسنیو مرکز



**صاحب امتیاز:** د ا.ا.ا. د اطلاعاتو او رسنیو مرکز
**د اړیکې شمېره:** 202100633 (0) 93+
**ایمیل:** info@gmic.gov.af
**آدرس:** مرمرینه ماڼۍ، بهرنیو چارو وزارت ته مخامخ، کابل - افغانستان

## معاون اداری ریاست الوزرا به شماری از اطفال مریض و یتیم...

محترم مولوی عبدالسلام حنفی معاون اداری ریاست الوزراء امارت اسلامی افغانستان از شفاخانه صحت طفل و دارالایتام (تهیه مسکن) کابل دیدن نمود و ضمن جویایی احوال اطفال مریض و یتیم، عید سعید فطر را به آنان تبریک گفت و با آنان مساعدت نقدی کرد.

محترم مولوی عبدالسلام حنفی در جریان بازدید از شفاخانه و دارالایتام متذکره، وعده نمود که به مشکلات موجود در عرصه‌های مختلف در شفاخانه صحت طفل و دارالایتام، رسیدگی صورت می گیرد. #



## د هېواد په کچه د سیاسي، امنیتي او ټولنیزو مسایلو په هکله د غونډې جوړېدل

ټاکل شوې ده په نږدې راتلوونکي کې د هېواد په کچه یوه غونډه جوړه شي چې د هېواد د سیاسي، امنیتي او ټولنیزو مسایلو په هکله به په کې خبرې وشي.

د اسلامي امارت ویندوی زیاتوي چې په دې غونډه کې به د قومونو استازي، د دین عالمان او سیاسي څېرې ګډون وکړي.

د اسلامي امارت ویندوی محترم ذبیح الله مجاهد وایي: په هڅه کې یوو چې د قومونو مشرانو، سپین ږیرو، علماو او سیاسي څېرو په ګډون د افغانانو ترمنځ یوه غونډه جوړه شي.


بل خوا محترم انس غږی انس حقاي هیله څرګندوي چې دا غونډه به ښې پایلې ولري.

ښاغلی حقاني څرګندوي: د اسلامي امارت د مشرتابه همدا هوډ او نیت دی، ان شاءالله هیله لرم چې دغه غونډه د ټول افغانستان په کچه او د ټولو افغانانو په ګټه وي. #

## اسلامي امارت د حجاب د رعایت په هکله نوی فرمان...

د دعوت، ارشاد، امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت د دغه فرمان په عملي کېدو ټینګار کوي.
د اطلاعاتو او کلتور وزارت مرستیال او د اسلامي امارت ویندوی محترم ذبیح الله مجاهد وایي: نننۍ یا لوېدیځه نړۍ د دې غوښتونکې ده چې موږ په خپله ټولنه کې اسلامي احکام تطبیق نه کړو د دې سربېره چې زموږ ملت مسلمان دی؛ بلخوا د افغانستان اسلامي امارت د الله (ج) له خوا مکلف دی چې پر ځمکه الهي احکام تطبیق کړي. #

## متقي: له نویو فرصتونو څخه دې د ټولې سیمې په ګټه استفاده وشي



د افغانستان اسلامي امارت د بهرنیو چارو سرپرست وزیر محترم مولوي امیر خان متقي د منځنۍ اسیا له سفیرانو او استازو سره په کتنه کې وویل چې له نویو فرصتونو څخه دې د ټولې سیمې په ګټه استفاده‌وشي.

په دې ناسته کې د اوزبیکستان او قزاقستان سفیرانو او د ترکمنستان او قرغزستان استازو هم ګډون کړی وو.

د بهرنیو چارو سرپرست وزیر د افغانستان او منځنۍ اسیا ترمنځ پر اړیکو، تجارت او اقتصادي اتصال خبرې وکړې او ټینګار یې وکړ چې له نویو فرصتونو څخه دې د ټولې سیمې په ګټه استفاده وشي.

په همدې حال کې د منځنۍ اسیا سفیرانو هم د تجارت، ترانزیت، رېل پټلۍ او د افغانستان له لارې د انرژۍ د لېږد په برخه کې په ګډ کار او همکارۍ ټینګار وکړ. #

## د عربي متحده اماراتو او ترکیې نوې مرستې...






اسلامي امارت وايي چې عربي متحده اماراتو له افغانستان سره د ۳۰ ټنه خوارکي توکو مرسته کړې ده چې د حکومت د پنځه ګونو ارګانانو له لارې بې وزلو کسانو ته به ووېشل شي.

د اطلاعاتو او کلتور وزارت مرستیال او د اسلامي امارت ویندوی محترم ذبیح الله مجاهد له مرستندویه هېوادونو غواړي چې له افغانستان سره خپلې بشري مرستې مشروطې نه کړي.

محترم مجاهد وايي: زموږ غوښتنه دا ده چې هېڅوک بشري مرستې مشروطې نه کړي او هغه سیاسي موخو سره ونه تړي. دا انساني او عاطفي موضوع ده، باید له افغانانو سره مرسته او همکاري وشي، لکه عربي متحده امارات چې له هېڅ موخې پرته یې له افغانستان سره مرسته کړې ده او موږ له هغوی مننه کوو.

له دې سره هم مهاله، د ترکیې د بشري مرستو څلورمه چوپه افغانستان ته راورسېده. د ترکیې سفیر وايي، چې د رېل پټلۍ له لارې د دغه هېواد د رارسېدونکو مرستو په هرې چوپه کې نږدې زر ټنه خوراکي او غیر خوراکي توکي شامل دي.

په افغانستان کې د ترکیې سفیر جهاد ارګین آی څرګندوي: موږ دغه مرستې له سفارت، سرې میاشتې او اړونده ادارو سره په همغږۍ رسوو. په دغو مرستو کې غنم، طبي توکي، بوره او نور څېزونه شامل دي. د ترکیې مرستې یوازې په دغو مرستو پورې محدودې نه دي.

تر دې مهاله افغانستان ته د متحده عربي اماراتو، قطر، ترکیې، پاکستان، هند، چین او یو شمېر نورو هېوادونو بشري مرستې رارسېدلي دي. #


## فعال شدن ۳ توربین تولید برق بند سلما

مسئولان محلی در بند سلما می‌گویند که در نتیجه باران و افزایش آب در ذخیره این بند، سه توربین تولید برق بند سلما فعال شده اند و بیش از چهل میگاوات برق تولید بند سلما وارد شبکه برق شهر هرات شده است.

سردار ولی مزمل، رییس حوزه دریایی هرات می گوید: فعلا آب این بند مختص ولسوالی‌های زنده‌جان، گذره و انجیل می‌باشد و چند روز بعد به ولسوالی‌های ادرو و کوهسان می‌رسد. در حال حاضر در هر ثانیه هشتاد متر مکعب آب از بند سلما خارج می‌شود.

رها شدن آب بند سلما نوید خوش به کشاورزان است. زارعینی که با گرم شدن هوا زمین‌های زراعتی و باغ‌های میوه شان خشک شده است.

شایان ذکر است که زمین‌های زراعتی و باغ‌های میوه در ولسوالی‌های چشت، اوبه، پشتون زرغون، گذره، انجیل، زنده جان، غوریان و کهسان هرات از آب بند سلما آبیاری می‌شوند. #




**ملا محمد عمر مجاهد رحمه‌الله مردی با شهامت، باصبر، بااستقامت، مدبر، شجاع و دارای شخصیت والا و بی‌نظیری بود. ملا محمد عمر مجاهد در شرایط بسیار دشوار به مبارزه‌ای خود ادامه داد و در این راه رنج‌های زیادی را متحمل شد.**

محترم ملا عبدالغنی برادر، معاون اقتصادی ریاست الوزرا امارت اسلامی افغانستان

## د دې ګڼې انځور



### مولانا جلال الدین محمد بلخی

مولانا جلال‌الدین محمد بلخی در ششم ربیع الاول سال ٦٠۴ هـ قمری در بلخ به دنیا آمد. نام او محمد و لقبش در دوران حیات جلال‌الدین بوده و لقب مولوی در قرن‌های بعد (ظاهراً از قرن نهم) برای وی به کار رفته است. نام پدر او محمد بود و به سلطان العلماء، بهاءالدین ولد بن ولد مشهور بود. او مردی سخنور از اکابر صوفیه واعاظم عرفا بود و خرقهٔ او به احمد غزالی می پیوست.

از القاب مولانا می توان به «مولوی»، «مولانا»، «مولوی رومی»، «ملای رومی» اشاره نمود و تخلص او «خاموش» و «خَموش» و «خامُش» دانسته اند. مولانا جلال‌الدین محمد بلخی ۱۳ ساله بود که به همراه پدرش بلخ را ترک کرد.

وی شهر به شهر و دیار به دیار رفت و در طول سفر خود با فریدالدین عطار نیشابوری نیز ملاقات کرد و بالاخره علاءالدین کیقباد قاصدی فرستاد و او را به قونیه دعوت کرد. او از همان بدو ورود به قونیه مورد توجه عام و خاص قرار گرفت.

مولانا همزمان با تربیت مردم خود نیز از شاگردان محقق ترمذی بود و از تعلیمات و ارشادات او استفاده نمود سپس برای تکمیل تحصیلات اش به حلب سفر کرد و در شهر حلب علم فقه را از کمال الدین عدیم فرا گرفت. او پس از مرگ محقق ترمذی علوم دینی را آموزش داد و چهارصد شاگرد را تربیت نمود.

مولانا در آستانهٔ ۴۰ سالگی مردی به تمام معنی و عارف و دانشمند دوران خود بود و مریدان و عامه مردم از وجود او بهره‌ها می‌بردند تا اینکه قلندری گمنام و ژنده پوش به نام شمس‌الدین محمد بن ملک داد تبریزی به قونیه آمد و با مولانا ملاقات کرد و آفتاب دیدارش قلب و روح مولانا را بگداخت و شیداییش کرد.

مولانا جلال‌الدین محمد بلخی در پنجم جمادی الاخر سال ٦٧٢ هـ قمری در قونیه فوت کرد و مقبره این شاعر و عارف بزرگ در همان شهر قرار دارد.